# کوم څه چې ښکاري آيا هغه د حقيقت يو رخ دی

په کوچنيوالي کي کوم ګيمونه چي موږ کول هغه يو څه خپ وه،مګر کرار کرار د وخت سره سره ويډيو ګيمونه بدل سوه.ما به زياتره واري فکر کاوه چي آيا موږ هم په ويډيو ګيم کي شتون لرو د مثال په توګه زه به د يو مشهوره سرياِل خبره وکړم کوم چي نن سبا روان دی.په دغه سرياِل کي يو ساينسپوه شتون لري کوم چي دا فکر يي وکړ چي زه بايد يو داسي ځای جوړ کړم کوم چي ټوله لايقه ماشيني انسانان هلته کيښودل سي.ددغه ماشيني کسانو خاصه خبره دا وه چي دوي يي په يو ډېر غټ ځای کي د کوم نوم چي ګرېټ کښنيين دی کيښودله او هلته ددوي افزايش وکړل سو او هلته دوي محکم کړل سوه.د يو څه وخت وروسته دغه ماشيني خلکو ته کوم چي تاسو يي په مخامخ




شکل کي ويني،له کوم سره چي شعور شتون درلود او ورسره داسي نور شيان هم ددوي سره وه د کوم په واسطه چي دوي ته معلومه سوه چي دوي ماشيني خلک دي دوي انسانان نه دي،نو په همدغه خاطر دوي د انسانانو په خلاف بغاوت پيل کړ او هغه جزيره يي ونيوله.

دا کيسه انسان مجبوره کوي چي فکر وکړئ کله چي موږ خپل کائينات ته وګورو نو له موږ سره دا احساس پيدا کيږي چي دده واسنيسن دومره زيات دي چي آيا موږ د عکس سره يا د کومي ويديو سره يو ډول کوم حقيقت کي خو موجود نه يو؟آيا موږ د يو ويډيو ګيم يوه برخه خو نه يو؟آيا زموږ ژوند يوه لوبه ده؟

موږ چي هر وخت خپلي غټي نړۍ ته وګورو يعني په کلاسيکل ميخانيک کي وګورو نو موږ ته شيان اضطراري په نظر راځي،موږ ته شيان حقيقي ښکاري،مګر کله



چي موږ و کوچني اندازې ته لاړ سو يعني کوانټم ليول ته لاړ سو يا اتومي اندازې ته لاړ سو،د کوچني ذراتو اندازې ته لاړ سو نو هلته شيان مختلف ښکاره کيدل پيل سي،هلته د شيانو دوه شکلونه موږ ته ښکاري يو دې ذراتي بڼه کوم چي تاسو په دغه شکل کي ويني او دوهم شکل يي څپي بڼه لري يعني د هر څيز ذراتي بڼه او څپه يي بڼه شتون لري او دا موږ ته معلومه سوه ډبل ټوټه




تجربې څخه.تاسو دلته په دغه عکس کې ګډلای سې چې دلته له موږ سره دوه داني ټوټې سته(دغه ټوټې که د هر جامد سې چي تاسو ګڼۍ خپل اختيار مو دې) او له شا څخه يي يا اوبه راځي او يا نور ولي چي دواړه څپي بڼه لري او له دغه دوو ټوټو څخه د دوي څپي ذرات مخته ځي او دوي خپل تر منځ مداخله کوي،په ځينو ځايو کي دوي بې لاري مداخله کوي نو هلته به تاسو ددوي نيلي رنګ ويني او په کوم ځای کي چي دوي رغنده مداخله کوي نو ژړ رنګ به ښکاره سي نو که د همدغه له امله تاسو يوه پرده يي مخي ته کښيږدیٍ نو تاسو ته به د رعنده مداخلي بيلګه به ښکاره سي کوم چي ژړ رنګ به لري او تاريکه رنګ چي بيا ويني هغه بې لاري مداخله ده.نو دلته ما تاسو ته وښوده چي يوه څرچينه د نور او دوه ټوټې د هغه مخته دي،څپه يي بڼه موږ ته راښکاره کوي ددغه پورتني قسم بيلګه.مګر کله چي موږ داغه تجربه له الکترون سره وکړه نو ساينسپوهانو دا خيال وو

Ketabton.com


(c) ketabton.com: The Digital Library


چي الکترون ذرات دي نو ددوي چلند به داسي وي چي کله دوي له دغه دوو ټوټو څخه تیر سي  نو د دواړو ټوټو پڅیر د هغوي و مخته یو نشان به ولګوي یعني دوه خطونه به رامنځته کړئ دې خوا ها خوا ته به نه ځي،مګر کله چي موږ دغه تجربه ترسه کړه نو موږ ته هغسي بیلګه په لاس راغله څه رقم چي د څپه یي بني دا ترلاسه کیږي.ددغه مطلب دا دې چي آیا الکترون هم څپه یي بڼه لري.دغې یوې تجربې د ساینسپوهانو نړۍ یي بدله کړه،ځکه کله چي موږ دا تجربه له نورو اټومي ذراتو سره وکړه مثلاُ له فوټونونو سره مو وکړه نو موږ ته داغه پایله په لاس راغله.په دغه څیز ساینسپوهان پوه نه سوه چي ولي ذرات څپه یي بڼه ښکاره کوي،پوهانو فکر وکړ چي راځي دا معلوم کړل سي چي د ذراتو چلند څه ډول وي؟




کله چي موږ یوه آله کینوده کوم چي یوه لیدونکې آله وه یعني کامره مو کینوده نو الکترونونو بلکل هم هغه سي چلند وکړ څه رقم چي دوي د ذراتو په بڼه باید چي کړې وای یعني څه رقم چي موږ هیله درلوده.نو تاسو ته په مخامخ شکل کي د ټوټو ومخته دوه ځایه داسي ښکاري چیري چي ذرات سره ټکر کیږي.دا څیز نور هم حیرانوونکی وو کله چي موږ الکترونونو ته ګورو نو هغه ذراتي بڼه ښکاره کوي او کله چي موږ هغوي ته نه ګورو نو دوي څپه یي بڼه ښکاره کوي.ددغه مطلب دا دې چي د الکترونونو دوه ګوني یا غبرګ خاصیتونه وي او وروسته دا ثابته سوه چي د هر څیز دوه ګوني یا غبرګ خاصیتونه وي.یو خاصیت یي هغه دې کوم چي موږ ته د لیدلو  په وخت کي ښکاري او یو خاصیت یي بیا هغه وي کله چي موږ دوي نه وینو یا مشاهده یي نه کوو په دغه وخت کي دوي خپل دوهم حالت خاصیت کي وي.


ساینسپوهانو په دا اوس کي ځیني نور تجربات تر سره کړل ولي چي له موږ سره اوس داسي ټکنالوژي سته کوم چي دا تجربه ترسره کوای سئ.نو دوي یو الکترون راواخیست او دا الکترون یي له  ټوټې څخه تیر کړ.تاسو دلته په لاندي عکس کي لیدلای سي چي دلته له موږ سره د دیوال یوه ټوټه ده له دغه څخه الکترون تیریده او په دغه وخت کي موږ الکترون ته نه ګورو او په دغه وخت کي الکترون خپل څپه یي خاصیت ښکاره کوي.دغه وخت الکترون مداخله کوي د څپو په څیر او دی بې لارې او رغنده بیلګه جوړوي،مګر کله چي دی دغه دوهمي ټوټې ته نږدې سو نو موږ یو دم خپله تجربه پیل کړه موږ ده ته کتل پیل کړه،اوس نو د الکترون سره دومره وخت نه وو چي هغه دي خپل شکل بدل کړئ مګر کله چي موږ د هغه بیلګي ولیدل نو د بیا خپل ذراتي خاصیت ښکاره کړ او دا یوه ډېره دماغ لړځوونکې تجربه وه.ددغه مطلب دا دې چي تر دغه ځایه خو الکترون څپه یي بڼه ښکاره کول،مګر څرنګه چي بیا موږ خپله تجربه پیل کړه یعني مشاهده مو وکړه،لید مو وکې،نو د دستي خپل ذراتي خاصیت ونیوه او ذراتي بڼه دی څنګه اخیستای سې؟





(c) ketabton.com: The Digital Library

ددغه خو مطلب دا سو چي د خپل ماضي هم بدل کړ،د چي له کومه ځایه پیل کړی وو د هلته هم ذراتي بڼه ښکاره کول نو په همدغه خاطر دی له دوو ټوټو څخه تیر سو او په تیریدو سره په دوو ځایو وموښت.حیرانوونکي خبره خو دا ده چي د خپل جاري حال ته کتو خپل ماضي حالت او خاصیت یې هم بدل کړ.یو سوال زموږ ومخته دا هم دې چي کله موږ د الکترون د لیدو لپاره په هغه نور لګوو ځکه چي موږ چي کله غواړو یو څیز ووینو نو نور په اچوو او د نور په ذراتو فوټونونو کي دومره انرژي وي چي هغه الکترون له ګډوډي سره مخامخ کوای سي یوازي الکترون نه بلکه هره اټومي ذره له ګډوډي سره مخامخ کوای سي،نو سمه موږ دا منو چی د نور ذره الکترون ته مزاحمت پیښوای سي،د الکترون تحریک دي بدل کولای سي،د هغه لوری دي بدلکولای سي مګر دا بیا څنګه کیدای سي چي موږ په الکترون نور وارید کړو په دغه خاطر چي نور په هغه باندي لګیدو سره انعکاس وکړئ او موږ ته دي راسي او ددغه نور ذره د هغه خاصیت دي بدل کړئ.که دی مخکي په څپه یي خاصیت کي وو نو د نور له لګیدو وروسته ذراتي خاصیت دي ونیسي.ددغه په اړه ساینسپوهان اوس هم په مشکل کي دي مګر تاسو ددغه بڼي ته وګوري د مثال په توګه که تاسو له دوربین څخه یو شي ته وګوري نو هغه طوطي جوړ سي او که ونه ګوري نو هغه چوغکه جوړه سي.زما د خبري مطلب دا دې چي حقیقت کوم یو دې؟کوم شی چي موږ وینو آیا هغه حقیقت دې یا کوم شی چي موږ نه وینو هغه حقیقت دې؟



په کوانټم میخانیک کي د دوهم څیز په اړه چي موږ ته ویل کي هغه دې کوانټم انټینګل منټ.په دغه کي موږ دوه مختلف ذرات راخلو ددوي حالت اینټینګل کوو او کله چي ددوي حالت اینټینګل سي یعني ددوي مختلف خاصیاتونه اینټینګل سي نو اوس تاسو دغه ذرات یو بله لیرې یو سي،یو د فضا یو کونج ته یو سي او بل یي د فضا بل کونج ته،نو اوس که تاسو د یوې ذرې حرکت سره بدل کړې نو د بلي ذرې دا به هم په هغه وخت دستي به بدل سي ،ددغه پیښي سرعت د نور له سرعت څخه هم زیات دې یعني که ددغه ذراتو تر منځ فاصله د بلیونو کلونو وي نو بیا به هم په یوه وخت کي که تاسو د یوې ذرې حرکت ته تغیر ورکړی نو په دغه وخت دستي په هغه بلې ذرې په حرکت کي به هم فرق تر لاسه کړی.ساینسپوهان وروسته دغه څیز په ډېرو زیاتو مخابراتي سیستمونو کي استعمال کوي.

ددغه سره سره هایزنبرګس موږ ته وویل چي قدرت زموږ په سر یو کولف لګولای دي په دغه خاطر موږ د یو لیول څخه لاندي شیان نه سو لیدلای ولي که چیري موږ د یو الکترون یا د کوچني اټومي ذرې لید وکړو نو د هغه حرکت اندازه به تغیر وکړئ او که چیري حرکت ته یي وګورو نو د هغه موقعیت به تغیر وکړئ نو په همدغه خاطر موږ دغه دواړه شیان یو ځای نه سو تر لاسه کولای دا زموږ اندازه کوم چي الله(ج) راته ټالکلي ده د مثال په توګه که زه د کومي ذرې موقعیت لیدل غواړم نو زه دا نه سم ویلای چي دا ذره به په راتلوونکي کې کوم لورې باندي به لاړ سي ولي چي زه دده په حرکت خبر نه یم او که چیري زه ددغه حرکت وینم نو ماته به دده موقعیت سم معلوم نه وي چي دغه ذره به دغه وخت په کوم ځای کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

به موقعیت لري.هایزنبرگس نامعلومتیا پرنسیپل یوازې په موقعیت او حرکت باندې مشتمل نه دې بلکه دا په انرژۍ او وخت باندې هم مشتمل دې اتومي اندازې ته په تلو سره.

که په کلاسیک فزیک کې وکتل سې د مثال په توګه زه په ځغاسته ځان له یو دیوال سره وجنګوم نو زه به ډېر بد زخمي سم او وبه لوېږم یعني زه له دغه دیواله نه سم تیریدای مګر کوانتم میخانیک دا وایي او له تجربې څخه هم دا ثابته سوې ده که چیرې موږ ذرات یعني اتومي ذرات په دغه دیوال واورو نو د ځینو ذراتو انرژۍ به دومره وې چې دوې به له دغه دیواله تیر سي او دغه څیز موږ ته هغه وخت ښکاري کله چې موږ ددوې څپه یې کار کورو او ددغه په واسطه موږ ته معلومه سې چې ددوې د شتون خاصیت دومره دې چې دوې له دغه دیواله ها خوا ته هم شتون لري مګر دغه ملکیت ډېر کم وي ځکه چې ډېر کم ذرات داسې سته چې تیریدای سي،مګر په کوانتم میخانیک کې په تجرباتي توګه معلوم ثبوت سته چې دغه عملیه کیدای سې.نو لکه څنګه څنګه که موږ د هغه ذرې جسامت غټ کړو نو دغه عملیه هغومره ناممکنه کیږي نو د همدغه له امله موږ دا عملیه نه سو اجرا کولای مګر په دغه زیات تجربات اوس هم اجرار کیږي چې موږ څنګه د مختلف شیانو څخه دا عملیه اجرا کولای سو.یوه نظریه چې ددغه په اړه راکول کیږي هغه د دوه ګونو کائیناتو هایپوتهیسیس دې په کوم کې چې دا ویل کیږي که چیرې تاسو له کوم شي سره ټکر سي نو په یو کائینات تاسو بیرته راسي مګر په دوهم کایئینات کې تاسو دا عملیه بیا تر سره کوای سي یعني له ټکر سوي شي څخه تیریدای سي د مثال په توګه له تاسو سره یوه سکه ده نو کوم وخت چې تاسو هغه وغورځوي کله چې ستاسو لاس ته دا سکه بیرته راسي نو هغه وخت ددغه سکې کوم مخ چې ښکاره وي یقین په بل کائینات کې ستاسو دوهم شکل چې کله دا عملیه اجرا کړئ نو هغه ته ددې معکوس حالت تر سره سوی وي.دا یو فکر دې کوم چې اوس مشاهده کیږي او ددې په مطابق هر څومره پریکړي چې نن موږ کوو او د هغه په واسطه کوم انتخابات چې موږ تر لاسه کوو ددغه معکوس انتخابات په کومه بله دنیا کې ستا یو بل شکل یې کوي.

موږ چې کله کهکشانونو ته وکتل نو معلومه سوه چې د کهکشانو په شاوخوا تیاره ماده سته کوم چې په ټوله کائینات کې شتون لري.مګر دغه ماده یوازې ۲۶ فیصده ده او ددې برعکس زموږ د لید وړ ماده یوازې ۵ فیصده ده.اوس دلته سوال دا پیدا کیږي چې دا ماده له کومه ځایه راغله؟دده خاصیتونه څه دي او دا ماده له عامي مادې څه اړیکه لري؟


د ساینس پوهانو دا خیال دې چې تیاره ماده داغه زموږ ستاسو عامه ماده ده مګر دا په ځینو نورو بعدونو کې شتون لري یعني بعدونه یې زیات دي،دا چې موږ هغه بعدونه کې تلای نه سو یا لیدلای نه سو نو په همدغه خاطر دغه عامه ماده موږ د تیاره مادې په توګه ښکاري.داسې هم کیدای سي چې په راتلونکې کې موږ دغه بعدونه ووینو او هغه وخت حقیقت ډېر زیات مختلف به وي.

د حقیقت د پیژندلو لپاره تر ټولو زیات کوچني اندازې ته تلل ډېر زیات مهم دې او موږ ته دا معلومه ده چې تر ټولو زیات کوچني اندازه د ۱۰ په توان د منفي ۳۵ مترو درجه بندي ده کوم ته چې موږ د پلانک درجه بندي هم وایو او په دغه ځای کې څه کیږي په دغه پوهیدل ډېر اړین دي،ددغه په اړه مختلف نظریات شتون لري یوه نظریه د سټرینګ نظریې ده کوم کې چې موږ ته دا ویل سوي چې زموږ په کائینات کې هر څیز اهتزاز کوي(اهتزازونه دي)نو په همدغه خاطر کوچني اتومي ذرات له دغه سټرینګ څخه جوړ دي او له دغه سټرینګ څخه مختلف بعدونو یا ایام هم جوړیږي او له دغه سټرینګ څخه ۱۱ بعدونه یا ایامونه هم جوړیږي او ورسره زموږ ټوله کائینات له دغه څخه جوړ دي.اوس خبره راځي ددغه سټرینګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اندازې ته چي دا څومره کوچني دي،ددي په جواب کي به زه ووايم د مثال په توګه که زه د هايدروجن اټوم د ټوله کائينات په برابر کم يعني يو د هايدروجن اټوم مي راواخيست په هغه کي مي هوا واچول او د يو مکمل کائينات په برابر مي جوړ کړ،نو آيا تاسو پوهيږي چي دده سټرينګ به په دغه وخت کي څومره جسامت به لري،دده په داخل کي سټرينګ انرژۍ د يوې مکملي درختي په برابر به وي.نو اوس تاسو اندازه يي لګولای سي چي موږ د هايدوجن يو اټوم مو د يو مکمل کائينات په برابر جوړ کړ او دده سټرينګ په دغه وخت کي يوازي د يوې درختي په اندازه جسامت پيدا کړ نو زموږ ستاسو په وجود کي چي سټرينګ شتون لري ددوي د جسامت په اړه خو يوازي الله(ج)پوهيږي کوم چي د ټولو کائيناتو پادشاه دی.اوس هم دغه سټرينګ نظريي د ځينو سوالاتو جوابونه نه دي راکړي لکه د نور سرعت ثابت ولې دی او يوازې دومره سرعت يي ولې دی څومره چي زموږ په کائينات کي دی.په همدغه طريقې سره داسي نور غټ غټ سوالونه سته کوم چي سټرينګ نظريي جوابونه يي نه دي ورکړي.

نن سبا ساينسپوهان په يوې بلې نظريي باندي هم کار کوي کوم چي د E8 نظريي په نامه يادېږي.دا يوه ډېره پخواني نظريه ده،دا نظريه د سټرينګ نظريي سره يو ځای جوړه سوې وه مګر په هغه وخت کي خلکو په سټرينګ نظريي باندي زيات کار پيل کړ او دغه نظريه يي هيره کړه.اوس په دغه E8 نظريي باندي زيات کار کيږي او په دغه نظريي کي دا ويل سوي دي




چي زموږ کائينات،زموږ ژوندون يوه سايه ده او دغه سايه ده د يوې 8D کرسټل دا. تاسو مخامخ شکل کي ليدلای سي چي ما تاسو ته يو 8D يعني اته بعدي کرسټل ښکاره کړی دی د کوم سايه چي 3D نيمه کرسټل ده او له دغې سايي څخه وای جوړيږي زموږ حقيقت. دغه نظريات موږ ته دا وايي چي دا زموږ حقيقت




يوه داسي تصويريزې لوبه ده په کوم کي چي تر ټولو کوچنی پکسل تيتراهايدرون په نوم يادېږي کوم چي يو مثلث ډوله شکل لري او له دغه څخه وای د مختلف قسم اجسام جوړيږي لکه ذرات وای جوړيږي زموږ،زموږ نړۍ جوړيږي،زموږ کائينات جوړيږي.نو ددغه نظريي به بنا دا زموږ د کائينات کوچني خشته ده.نو اوس تاسو فکر کولای سي چي زموږ حقيقت څه دی.ساينسپوهان دا وايي چي زموږ حقيقت يو معلومات دي او زياتره ساينسپوهان دا هم وايي چي زموږ حقيقت يو معلومات نه دي.نو ددوي د خبرو په بنا باندي زموږ حقيقت د لوبې او ننداری علاوه هيڅ هم نه دی.خو رښتيا څه دي ،زموږ حقيقت څه دی په دغه اوس هم هيڅوک نه دي خبر. بس که خبر دی هغه د الله(ج)لا شريک ذات دی چي هر څهويني او هيڅ شی هم دده له پادشاهي څخه نه سي وتلای.

## پای

## جليل احمد ارمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**